# د سږو د سرطان د معاینې په اړه باید تاسو څه وکړئ.

**د سږو سرطان څه دی؟**

د سږو سرطان هغه سرطان دی چې په سږو کې موندل کیږي. دا هغه مهال پیلیږي کله چې غیرنورمال حجرات په نا کنټرول شوي ډول سره په سږو کې وده وکړي. د سږو سرطان یو تر ټولو معمولو سرطانونو له ډلې څخه دی او په انټاریو کې د سرطان د مړینې یو تر ټولو معمول لامل دی. پخوا، ډیري د سږو د سرطان لرونکې کسان مړه شوي دي ځکه چې د هغوې سرطان وروسته، کله چې درملنې کار نه کاوه، تشخیص شوی وو. اوس د خلکو د سږو د سرطان د معاینه کولو (چک کولو) لپاره یوه اغیزناکه لاره شتون لري ترڅو دمخه تشخیص شي، کله چې درملنه د کار کولو ښه چانس لري.

**د سرطان معاینه کول یا سکرینګ څه دی؟**

د سرطان معاینه هغه ازموینه ده چې په هغو خلکو ترسره کیږي چې په سرطان باندې د اخته کیدو چانس لري، مګر د سرطان هیڅ علایم نه لري او په عمومي ډول سره ښه احساس کوي.

د انټاریو د سږو د معاینې پروګرام (OLSP) د انټاریو د سږو د سرطان د معاینې پروګرام دی. OLSP د سږو په سرطان باندې د اخته کیدو له لوړ خطر سره مخ خلک هڅوي ترڅو د دې ناروغۍ لپاره خپل ځانونه په منظم ډول سره معاینه کړي.

**څوک باید د سږو د سرطان لپاره معاینه شي؟**

هغو کسانو لپاره د سږو د سرطان د معاینې د ترسره کولو سپارښتنه کیږي چې د سږو په سرطان باندې د اخته کیدو له لوړ خطر سره مخ دي. تاسو ښایي د سږو د سرطان د معاینې په شرایطو برابر اوسئ که تاسو:

- 55 څخه تر 80 کاله عمر ولرئ
- لږ تر لږه د 20 کلونو لپاره مو هره ورځ سګرټ څکولي وي - دا ضرور نده چې په پر له پسې ډول 20 کاله وي، پدې معنې چې ښایي داسې وختونه شتون ولري چې تاسو به کې سګرټ نه وي څکولي، او
- د OHIP پوښښ ولرئ

که چېرې تاسو دا معیار پوره کړئ باید خپل ډاکټر یا متخصص نرس سره د OLSP یو مرکز ته د راجع کیدو په اړه خبرې وکړئ، یا تاسو کولای شئ چې د یو OLSP له مرکز سره مستقیماً خبرې وکړئ.

له [ontariohealth.ca/lungscreeninglocations](https://ontariohealth.ca/lungscreeninglocations) څخه لیدنه وکړئ یا 1.866.662.9233 سره اړیکه ونیسئ ترڅو د OLSP د هغو مرکزونو نومونه ترلاسه کړئ چې تاسو ورسره اړیکه نیولی شئ.

**زه څنګه کولای شم پوه شم چې آیا زه د سږو د سرطان د معاینې په شرایطو برابر یم؟**

هغه کسان چې OLSP ته راجع کیږي هغه ټول ښایي د معاینه کیدو په شرایطو باندې برابر نه وي.

د OLSP یو مرکز به تاسو سره اړیکه ونیسي ترڅو د سږو په سرطان باندې ستاسو د اخته کیدو په اړه لا ډېر مالومات ترلاسه کړي او ستاسو د روغتیا او سګرټ څکولو د مخینې په اړه پوښتنې وکړي. دغه پوښتنو ته ستاسو د ځوابونو پر بنسټ به، د OLSP ساېټ به تاسو ته ووایي چې آیا تاسو د سږو د سرطان د معاینې په شرایطو برابر یاست که نه.

Ontario Health
Cancer Care Ontario

- د سږو د سرطان نوې کورنۍ مخینه

### زه د سګرټ څکولو د پرېښودلو لپاره چیرته مرسته ترلاسه کولای شم؟

د سګرټ څکولو پرېښودل یوه تر ټولو غوره لاره ده چې تاسو یې سرطان باندې د خپل ځان د اخته کېدو د چانس کمولو په ګډون د خپلې عمومي روغتیا د اصلاح لپاره ترسره کولای شئ.

سګرټ څکول ښایي ستونزمن وي، مګر ممکن دي، او که یو څوک مرسته ترلاسه کړي په ډېر احتمال سره یې پرېښودلی شي. که چېرې تاسو اوسمهال سګرټ څکوئ او د OLSP یو مرکز ته راشئ تاسو به وړیا چوپړتیاوې وړاندې شي ترڅو تاسو سره د سګرټ څکولو په پرېښودو کې مرسته کولای شي.

د سګرټ څکولو پرېښودو کې د مرستې لپاره تاسو کولای شئ چې مستقیماً لاندې چوپړتیاوو سره هم اړیکه ونیسئ:

- روغتیا811: د 811 ډایل کولو له لارې
- د سګرټ څکونکو تیلیفوني لیکه: په SmokersHelpline.ca کې

### د سږو د سرطان د سکرینینګ ازموینې پرمهال څه ترسره کیږي؟

که چېرې تاسو د معاینه ترسره کولو په شرایطو برابر اوسئ تاسو ته به د کمپیوټري انځور اخستنې (CT) سکن داسې یو ډول وړاندیز شي چې لږ مقدار وړانګې کاروي. دا ازموینه د ټیټ ډوز سي ټي سکن په نوم یادیږي. د سکن پرمهال، تاسو په یو پرانستي میز باندې څملئ چې دا میز له یو لوی ډونټ-شکل ماشین څخه چې د سکینر په نوم یادیږي، تیریږي. سکینر لږ مقدار وړانګې کاروي ترڅو ستاسو د سږو مفصل انځورونه واخلي. دا ازموینه یوازې څو دقیقې وخت نیسي او دردناکه نده. د دې ازموینې پرمهال هېڅ درمل یا ستنې نه ورکول کیږي.

د معاینې د ترسره کولو پر مهال به د روغتون کارکونکي به ستاسو د ملاتړ لپاره شتون ولري. تاسو کولای شئ چې خپل ځان سره یو ملګری یا د کورنۍ غړی هم راولئ.

### زه باید څو ځلې معاینه وکړم؟

که چېرې تاسو د پروګرام په شرایطو باندې برابر اوسئ، OLSP سپارښتنه کوي چې تاسو باید هر کال معاینه ترسره کړئ.

### که زه د سږو د سرطان د معاینې په شرایطو برابر نه اوسم نو څه؟

د سږو د سرطان د پراختیا لپاره ستاسو د خطر کچه د وخت په اوږدو کې بدلیدلی شي. که د OLSP یو سایټ تاسو ته ووایي چې تاسو د معاینې په شرایطو برابر نه یاست، تاسو باید 3 کلونو کې باید معاینه وکړئ ترڅو وګورئ چې آیا تاسو په شرایطو برابر یاست.

که تاسو لاندې مواردو سره مخ شئ تاسو باید ژر تر ژره بیا معاینه وکړئ:

- بیا مو سګرټ څکول پیل کړي وي (که چېرې تاسو سګرټ څکول پرېښي وي)
- تاسو ته ویل شوي وي چې تاسو د سږو د بندیدو اوږدمهاله ناروغي (COPD) لرئ

**د سږو د سرطان د معاېنې لپاره د لا ډېرو مالوماتو لپاره، مهرباني وکړئ لاندې وېب پاڼې څخه لیدنه وکړئ:**
**[ontariohealth.ca/lung](ontariohealth.ca/lung)**

آيا دغه مالوماتو ته د لاسرسي وړ فارمټ کې اړتيا لرئ؟ 1-877-280-8538, TTY 1-800-855-0511, info@ontariohealth.ca.

Ontario Health
Cancer Care Ontario